سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۱۰/۰۵

# جناب احدی صاحب نه یوه پښتنه

د افغانستان د جمهوری ریاست د ټاکنو بریالی تر سره کیدنه دی ټول افغان ولس او په سرکی افغان ملی امنیتی ځواکونو ته چی د خپل ژوند د قربانی په بدله کی یی په پوره ډاډ منه فضا کی، خپلو وطنوالو ته دازمینه برابره چی د رای ورکونی مرکزونو ته ورشی او د خپلی خوښی نوماند ته ځپله رایه ورکړی د زړه له تله مبارکی وایم. همدارنګه د انتخاباتو د خپلواکو کمیسیونونو دواړومشرانو ته چی دواړه د وطن ویاړلی لورانی دی او نورو ټولو غړو ته یی، مدنی فعالانو او د ټولنیزو رسنیو کارکوونکو ته، د نوماندانو کتونکو او د نړیوالو موسسو څارونکو ته دی هم دا بری مبارک وی چی په سختو شرایط کی د دیموکراسی د ژوندی ساتلو د پاره په پوره میړانه خپلی ور سپارل وی دندی سرته ورسولی او د افغان ولس د انتظام او د دیموکراتیک سیستم د لرلو ټول داخلی او خارجی دښمنانو ته یی خپل افغانی شهامت په ډاګه ور وښوده.

هیله من یم چی د انتخاباتو د پروسی ټول ګډونوال لکه څنګه چی یی په میړانه دا ملی پروسه را پیل کړه همداسی په ایمانداریٔ سره یی  تر اخره پوری پر مخ بوزی او هیڅ غیر مسؤل شخص یا ارګان او سازمان ته د دی اجازه ورنکړی چی دا ملی پروسه مختله کاندی او یا د اخری نتایجو د اعلان نه غیر د تیر په څیر د یوه بیکاره او ناکاره دولت جوړونی د پاره بیا زمینه برابره کاندی.

رابه شم اصل مطلب ته. دوه دری ورځی د مخه می یوه ویدیو ولیدله چی ډیرو نورو دوستانو به هم حتمی لیدلی وی او د وینااوالو خبری به یی هم په پوره دقت سراوریدلی وی. نو له دی کبله یی د خبرو تکرار د دوستانو د وخت ضایع کیدنه بولم نو بی له مقدمی وایم چی دا ودیوی ناسته د انتخاباتو د ورځی نه د مخه د طالبانو (ممکن د یوی برخی) او د عبدالله د تیم تر منځ د یوه ایتلاف او یا پخلاینی د پاره جوړه شوی وه. ددی ویدیو ناستی مشران ګډون کونکی د جمهوری ریاست نوماند ښاغلی ډاکټر عبدالله، د طالبانو د رژیم د (د امر معروف او نهی منکر) د اداری مسؤل ښاغلی مولوی قلم الدین او د دی دواړه د یوځای کیدو مرکه چی ښاغلی ډاکټر انوارالحق احدی وو. خبری مولوی صاحب قلم الدین پیل کړی. د جهاد د وخت کیسی یی وکړی ، ډاکټر محمد اشرف غنی یی د سولی په لارکی لوی خنډ وباله او په انتخاباتو کی د ښاغلی ډاکټر عبدالله څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. دویم وینا وال ښاغلی احدی و، هغه په لنډه توګه و ویل چی ما ستاسو دواړو په یوځای کیدو کی دوه دری میاشتی ډیر منډی رامنډی وکړی او اوس خوښ یم تاسو می سره مخامخ کړلی نوره زما وظیفه ختمه ده. دریم وینااوال ډاکټر عبدالله و، چی طالبان یی خپل وطنوال و بلل او د سولی په راتلو کی یی خپلی هلی ځلی په لنډه توګه یادی کړی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

او د سولی د مخنوی پړه یی د مولوی قلم الدین په غاړه اچولی او وعده یی ورکړه چی که ده ته قدرت لاس ته ورشی، د طالبانو سره سوله به یی لومړیتوب وی ، خو دایی ونه ویل چی څه ډول سوله؟

ښه، دا خو د هرچا حق دی چی د ځان د بری د پاره کمپائین وکړی، ملګری پیدا کاندی او هرڅومره چی کولی شی خپل حریف ضعیف،کارشکن،دروغجن او بی کیفایته وښای او حتی د اصولو خلاف شخصی تعرض هم ترینه سر و وهی. دا هم تر ډیره حده سړی منلی شی چی مولوی قلم الدین( چی د مولوی محمد نبی د ډلی مجاهد و) او ډاکټر عبدالله د یوی ایډیالوژۍ پیروان دی، د یوه مکتب شاګردان دی، دواړه مجاهدین دی، دواړو تر هغه حده چی ورته ممکنه شویده د افغانستان خلکو ته مالی او ځانی تاوانونه رسولی دی، دواړو ممکن په یوه اندازه د هیواد ملی شتمنی چور او چپاول کړی وی، د دواړو لاسونه شاید د افغانستان د بی ګناه، بی دفاع او مظلومو انسانان په وینو لړلی وی او په لسګونو داسی نور ورته والی با سره ولری. داچی اوس د مقام د لاس ته راوړلو د پاره یو نیکټای لرونکی او دریشی پوش شویدی او بل لا تر اوسه هم په هماغه پخوانی خیرن لباس کی پاتی دی، د دوی د طرز تفکر بیلوالی نشی کولی.

پوښتنه می د ښاغلی ډاکټر انوارالحق احدی نه داده چی تاسو جناب چی د ډیرو کلونو د پاره د افغان ملی دموکرات سیاسی ګوند رئیس وی، تاسو چی په امریکای پوهنتونو نو کی درس ویلی او د دوکتورا یا ماستری ډګری مو هم تر د لاسه کړیده، تاسو چی په کراتو کراتو په خپلو وینا ګانو او مصاحبو کی د طالبانو دریغ په ډیرو سختو کلماتو غندلی او هغه مو د بشری حقونو تر ټولو سخت ناقضین بللی دی، تاسو او حتی ستاسو درنی میرمنی چی همدا مولوی قلم الدین مو د امر معروف او نهی منکر د رئیس په صفت د تحجر نماینده بللی دی او بلاخره تاسو چی د افغانستان په موجودو روشنفکرانو کی ځان د دمو کراسی د حفاظت او ساتنی دلومړی لیکی مبارز ګڼی ، څنګه مو دا قبوله کړه چی د تحجر د دوری نماینده قلم الدین مولوی صاحب کور ته په تلو راتلو لاری ستړی کړی، تضرع وکړی او هغه دی ته را وبولی چی د بل هغه ته د ورته خو په فیشن کی متفاوت شخص سره یی د ډاکټر غنی په مقابل کی را یوځای کړی؟

جناب احدی صاحب! رینتیا و وایه ایا د اجرائیه ریاست چوکی ته د رسیدو د پاره ( که هنوز درشاخ آهو است) هر ډول ذلیل حرکت کولی شی؟ ایا دا چوکی همدومره ارزښت لری چی انسان دی د عمر په وروستیو کلونو کی هم دومره وړوکی کړی چی د انسانی تمدن د لاری د وهونکو سره هم باید خپلی اړیکی وشلوی؟

جناب احدی صاحب تاسو سره ما په ټول عمر کی یو کرت په ۲۰۰۱ م کال کی په اټاوا کی په هغه کنفرانس کی چی ښاغلی عمر زاخیلوال د کاناډا د سیدا د موسسی په مرسته جوړ کړی و، لیدلی دی. همړلته می تاسو. ښاغلی او محمد اسحاق نادری صاحب چی داواړه د بُن کانفرانس ته بلل شوی وی، او ما یوه طرحه لروده چی په هغی کی می په دی ټینګار کړی و، چی په کانفرانس کی باید د طالبانو او اسلامی ګوند کسانو ته هم برخه ورکړله شی، کاپی می تاسو دواړو ته او هم زاخیلوال ته هم ورکړله. تاسو چی ولوستله ډیره مو خوښه شوه خو د طالبانو سره خبری دی داسی رد کړی چی حتی مستر بوش به هم داسی نه وای رد کړی. تاسو ته یاد دی چی طالبان مو د تاریکو پیړیو استازی و بلل؟ ایا تاسو ته یاد دی چی په دهلیز کی ډاکټر روستار تره کی هم درته و ویل چی د کلیوال خبره سمه ده، که طالبان د خبرو نه لری پاتی شی درد سر جوړیدلی شی، خو تاسو هغه ته هم و ویل چی

«تره کی صاحب طالبان نور مطرح نه دی.» نو اوس څه وشول چی د اصلی طالبانو څه چی د هغوی د صفوفو نه د شړل شوو د کورونو تمبی هم ورتړکوی؟ ځواب درسره نشته احدی صاحب، کاشکی پاچا شی .

پایان